# رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې د اودس ماتي ځای ته ننوته، نو ما او زما په څېر یو بل ځوان به ورسره د اوبو کوزه او نیزه ګرځوله، نو په اوبو به یې استنجا کوله

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې د اودس ماتي ځای ته ننوته، نو ما او زما په څېر یو بل ځوان به ورسره د اوبو کوزه او نیزه ګرځوله، نو په اوبو به یې استنجا کوله.
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

انس بن مالک رضي الله عنه وايي چې هغه او د هغه په څېر یو بل هلک چې عمر یې ده ته ورته و، د رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې ګرځېدل، نو کله به چې د حاجت رفع کولو لپاره ووت، دوي دواړو به ورسره امسا ګرځوله چې لکه د نېزې د نوک په څېر ښاښونه یې درلودل، تر څو یې د ځان لپاره پرده کړي او یا یې د لمانځه پر مهال ستره کړي او دوي به ورسره د اوبو ډک یو کوچنی خرمني لوښی هم ګرځاوه، نو کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حاجت له رفع کولو فارغ شو، نو یو له دوي څخه به هغه لوښی ورکړ او په اوبو به یې استنجا وکړه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3030

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee